كُلُّ أُمَّتِي مُعَافًى إِلَّا المُجَاهِرِينَ

له ابوهريره -رضي الله عنه- څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله -صلى الله عليه وسلم- څخه اوريدلي دي چې ويل يې: «كُلُّ أُمَّتِي مُعَافًى إِلَّا المُجَاهِرِينَ، وَإِنَّ مِنَ المُجَاهَرَةِ أَنْ يَعْمَلَ الرَّجُلُ بِاللَّيْلِ عَمَلًا، ثُمَّ يُصْبِحَ وَقَدْ سَتَرَهُ اللَّهُ عَلَيْهِ، فَيَقُولَ: يَا فُلاَنُ، عَمِلْتُ البَارِحَةَ كَذَا وَكَذَا، وَقَدْ بَاتَ يَسْتُرُهُ رَبُّهُ، وَيُصْبِحُ يَكْشِفُ سِتْرَ اللَّهِ عَنْهُ».

«زما ټول امتيان بخښل شوي دي پرته له هغو څخه چې د - ګناه - بښکاره کوونکي وي، او -ګناه- بښکاره کوونکي خلک هغه دي چې: يو سړی د شپې يو کار (ګناه) وکړي، بيا په داسې حال کې سهار کړي چې الله د هغه ستر او پرده کړي وي، بيا ووايي: اې فلانيه! ما تېره شپه داسې او داسې وکړل، او حال دا چې هغه به په داسې حال کې شپه تېره کړې وي چې الله تعالى د هغه ستر او پرده کړي وي، خو دی به سبا د هغه څه څخه پرده پورته کړي چې الله پرې پرده اچولې وه».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خرګندوي چې ګناه کار مسلمان ته د الله تعالى د بخښنې تمه شته، مګر هغه څوک چې په وياړ او سرکښ سره خپله ګناه اعلانوي نو هغه د بخښنې وړ نه دی. ځکه چې هغه کله د شپې ګناه وکړي نو سبا پرې د الله جل جلاله اچولې پرده له ځانه لرې کوي، او نورو سره په خبرو کې وايي چې پرون مې فلانۍ ګناه کړې ده، پداسې حال کې چې الله تعالى د شپې پرې پرده اچولې وه، نو کله چې سهار کړي د الله تعالى پرده له ځانه لرې کړي..!!

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3756